# نیکۍ پټي ساتئ

25-November-2021



هفته واره د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# نيکئ پتې ساتئ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ **(ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، چې ياد مو وي نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي.

ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کيدو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِيَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چا چې په کتاب کښې په ما دُرُود شريف اوليکلو، تر څو پورې چې زما نوم په هغه کتاب کښې وي فرښتے به د هغه د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي.[1]

[1]...معجم اَوْسط، جلد:1، صفحه:497، حديث:1835۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د بیان اوریدلو نیتونه

مُحترمو اسلامي ورونړو! ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: " اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّیَّۃُ الصَّادِقَۃُ" رښتینے نیت بهترین عبادت دے.(1)

اے عاشقانِ رسول! نیك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

❀ د عِلمِ دِین حاصلولو نِیَّت اوکړئ او نور دا نیتونه اوکړئ چې ❀ نظر به ښکته ساتم او ښه په غورسره به بیان اورم. ❀ چې څومره کیدے شي د ډډه وهلو په ځائے به د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت د اَلتَّحِیَّات په شکل کښې کښینم ❀ د علم زده کولو د پاره به پوره بیان اورم ❀ د بیان په دوران کښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❀ د خپلې اصلاح د پاره به بیان اورم ❀ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د دریمې صدئ هجرئ یو بُزُرګ حضرت اسماعیل بِن نُجَید نیشاپوري رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ دے، هغوئې د خپل دور غټ اِمام، مُحَدِّث، زاهِد او صُوفي بُزُرګ وو، او د حضرت اَبُو عُثمان حِیرِی رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ مُرید وو، د یو ځل واقعه ده چې د هغوئې پیر صاحب هغوئې ته د الله پاك په لاره کښې د صدقه ورکولو اووئیل، حضرت اسماعیل بِن نُجَید رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ فوراً

---

1...جامع صغیر، صفحه:81، حدیث:1284۔

دوه زره درهمه په خدمت کښې حاضر کړل. شيخ اَبُو عُثمان حِيرِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل مُريدِ کامِل په سخاوت ډير خوشحاله شو، چې خلقو ته د دې خبرې پته اولګيدله نو خلقو ئې هُم ډير صفت اوکړو. حضرت اسماعيل بِن نُجَيد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه چې کله اوليدل چې زما نيك عمل ښکاره شو او خلق زما ستائنه کوي نو ډير خفه شو، هغوئي د خپل پير صاحب په خدمت کښې حاضر شو او د خلقو په مخکښې ئې عرض اوکړو: جناب! زما مال ما ته واپس راکړئ، زه ئې اوس د الله پاك په لاره کښې خرچ کول نه غواړم. پير صاحب ورته ټول درهمونه بيرته ورکړل. خلقو چې دا عجيبه مُعامَله اوليدله نو هغوئي حضرت اسماعيل بِن نُجَيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته رد بَد وئيل شروع کړل (چې دا څنګه سړے دے، د الله پاك په لاره کښې ورکړے شوے مال ئې بيرته واخستو). حضرت اسماعيل بِن نُجَيد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د خلقو د دې خبرو پرواه اونکړه او مال ئې کور ته راوړو. چې کله شپه شوه او حضرت عُثمان حِيرِى رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه خپل يواځې ځائے ته تشريف يوړلو نو بيا دا مُريدِ کامِل حضرت اسماعيل بِن نُجَيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پير صاحِب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو او هغه دوه زره درهمه ئې ورته پيش کړل او عرض ئې اوکړو: جناب! دا دوه زره درهمه دي، تاسو ئې چې په کوم ديني خدمت کښې خرچ کوئ، په پټه ئې خرچ کړئ، زما نوم چا ته مه ښکاره کوئ. حضرت عُثمان حِيرِى رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه چې د خپل مُريدِ کامِل دا خبره واوريدله نو په سترګو کښې اوښکې راغلې او اوئې فرمائيل: اے اسماعيله! ستا هِمَّت ته سلام...! [1]

---

[1] ...تاريخ الاسلام، جلد:8، صفحه:525۔

## د الله والؤ يو پاك عادت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوليدل! زمونږه بُزُرګانِ دينو به په نيکو اعمالو کښې اخلاص څومره زيات لرلو! هغه پاکو خلقو به د خپلو نيکو پټولو څومره جذبه لرله...! خو زمونږه حال دا دے چې که زمونږه نيکۍ ښکاره شي، خلق مو تعريف اوکړي، واه واه اوکړي، په ډك محفل کښې اعلان اوشي چې فلانکے صاحب دومره مال د الله پاك په لاره کښې صَدَقه کړے دے، په سوشل ميډيا باندې اوچليږي، په اخبارونو کښې اشتِهار اولګي نو مونږه دومره خوشحاليږو چې د خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائيږو خو قربان شم! د هغه نيکو او پرهيزګارو خلقو د سوچ، د هغوئي د هِمَّت او اِخلاص نه، هغوئي به خالِص د الله پاك د رِضا د پاره نيکۍ کولې، اوَّل خو به ئې نيکۍ ظاهرولې نه، بيا د هغوئي د پټ ساتلو د هر قِسمه کوشش باوجود به که په څه وجه د هغوئي نيکۍ ښکاره شوے نو هغوئي به ډير خفه کيدل چې زمونږه نيکۍ ولے ښکاره شوے، مونږه خو د الله پاك رِضا غواړو، چرته د خلقو دا تعريفونه، واه واه کول او زمونږه دا نيك نامي زمونږ د نيکۍ بدله جوړه نه شي.

دا دے د الله والؤ شان دے....! الله پاك دِ د دغه نيکانو بندګانو په برکت مونږ ګنهګارانو ته هم د اِخلاص دولت راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د نيکو پټولو نه څه مراد دے؟

د الله پاك کامِل ولي، چې په قرآنِ کريم کښې دهغوئي علم و حکمت بيان شوے دے، يعني حضرت لُقمانِ حکيم صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه: په قرآنِ کريم سيپارۀ 21 کښې د

هغوئي په نوم پوره يو سُورت سورهٔ **لُقمان** دے. حضرت لُقمانِ حکيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل ځوئ ته نصيحت کوي، فرمائي: بچيه! **رياکاري دا ده چې ته د نيکۍ بدله په دُنيا کښې اوغواړې حالانکه نيك خلق د آخرت د پاره نيکۍ کوي.** ځوئ ئې عرض اوکړو: باباجانه ! د رياکارئ علاج څه دے؟ اوئې فرمائيل: **نيکۍ پټول.** ځوئ ئې بيا عرض اوکړو: نيکۍ به څوک څنګه پټې کړي؟ د ځوئ د دې سُوال په جواب کښې حضرت لُقمان حکيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دوه خبرې ارشاد اوفرمائيلې : **(1)** هغه نيکۍ د کومو چې اِظهار کول ضروري دي، په **هغې کښې د اِخلاص سره داخليږه.** يعني څنګه چې لمُونځ فرض دے، نو ولے چې فرض لمونځ په جُمات کښې د جَمعې سره کول واجب دي نو يقيناً دا ډيره غټه نيکي ده خو دا نيکي د خلقو نه پټه نه شي کيدے. دغه شان حج دے، عمره ده، دا هم ډيرې اعلیٰ نيکۍ دي خو ښکاره خبره ده چې حج او عُمره هم د خلقو نه پټ نه شي ادا کيدے، لِهذا داسې نيکۍ چې هغه پټې نه شي پاتې کيدے نو هغه نيکۍ صرف او صرف د الله پاك د رِضا د پاره کول پکار دي، په هغې کښې د واه واه او تعريف خواهش په زړه کښې ساتل نه دي پکار، **په داسې نيکو کښې به هُم داسې کولو ته نيکۍ پټول وئيلے کيږي.**

**(2)** بله خبره حضرت لُقمانِ حکيم صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا اوفرمائيله چې: **هغه نيکۍ کومې چې په پټه کيدے شي (مَثَلاً تَهَجُّد، نفل لمُونځونه، صدقه و خيرات) په داسې نيکو کښې کوشش کوه چې د الله پاك نه سِوا بل څوک د هغې نه خبر نه شي او که**

داسې نيکي دِ خلقو ته ښکاره شي نو هغه په خپلو نيکو کښې مه شميره ...![1]

## د سُوْرَۃُ الْـکَهْف د يو آيت وضاحت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! راځئ چې د قرآنِ کريم يو آيتِ کريمه او د هغې مختصر وضاحت د اوريدلو سعادت حاصل کړو. په سيپاره 16، سُوْرَۃُ الْـکَهْف، آيت نمبر 110 کښې دي:

فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّ لَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖۤ اَحَدًا۠ (پاره:16، سورۂ کهف:110)

مفهوم ترجمه: نو څوك چې د خپل ربّ سره د مُلاقات اُمِّيد ساتي، هغه له پکار دي چې نيك کار اوکړي او د خپل ربّ په عبادت کښې هيڅ څوك شريك نه کړي.

## د فرښتو د دُعاګانو حاصلولو آسان عمل

دا د سُوْرَۂ کَهْف آخري آيت دے، د اسلام دويم خليفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عُمَر فاروقِ اعظَم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې رَسُولِ اکرَم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: څوك چې دا آيت اولولي، د هغه د پاره به د مقامِ عدن نه مکے مکرمے پورې نُور راوچت کړے شي، فرښتے به د هغه نُور نه چاپيره وي او دې آيت لوستونکي د پاره به د رحمت او بخښنې دُعا کوي.[2]

---

[1]...تفسيرِ قرطبی، پاره:5، سورۃالنساء، زيرِ آيت:36، جلد:3، صفحه:110۔

[2]...تفسيرِ قرطبی، پاره:16، سورۂ کهف، زيرِ آيت:110، جلد:5، صفحه:306
مسندِ بزار، جلد:1، صفحه:421، حديث:297۔

**سُبْحٰنَ اللّٰه**! د فرښتو د دُعاګانو حاصلولو څنګه آسان عمل دے، دا آيتِ کريمه په يو څو سيکنډه کښې لوستلے کيږي. او فضيلت ئې څومره ډير دے؟ د لوستونکي د پاره به نُور راوچت کړے شي او فرښتے به د هغه د پاره د رحمت او بخښنې دُعاګانې هُم کوی .

**اَلْحَمْدُلِلّٰه**! په **شجره عاليه قادريه، رضويه عطاريه** کښې هم د دې آيت وِرد شامِل دے، شجره عاليه قادريه، رضويه د شيخِ طريقَت،اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ عطا کړے شوو اَوراد و وَظائفو مختصره مجموعه ده، په دې کښې د اوده کيدو په وخت ووه اعمالو کښې پينځه عمله دي: (د اُوده کيدو په وخت کښې) د سورۀ کهف آخري 4 آيتونه (لولئ!) **فضيلت**: چې په شپه کښې يا د سحر په کوم وخت کښې د رابيداريدلو په نيت ئې اولولي، نو (اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم!) په هغه وخت به رابيدار شي.[1]

الله پاك دِ مونږ ټولو ته د قرآنِ کريم د تلاوت کولو، په هغې د ځان پوهه کولو، او د عمل کولو او د دُنيا او آخرت برکتونه د حاصلولو توفيق را عطا کړې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د آيتِ کريمه شانِ نُزول

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو**! د سورۀ کهف د آخري آيتِ کريمه شانِ نُزول دا دے: حضرت عبدُ الله بِن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: يو ځل يو کس د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

[1] ...شجره عطاريه، صفحه:32۔

وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو، عرض ئې اوکړو: زه د الله پاك د رِضا د پاره نیك اعمال کووم او په دې کښې صرف زما نیت د الله پاك رضا وي خو چې کله زما نیکۍ ښکاره شي، خلقو ته زما د اعمالو پته اولګي نو زه خوشحالیږم (چې واه واه! زما د نیکو په وجه په خلقو کښې زما مقام او عِزّت زیاتیږي). هغه وخت دا آیتِ کریمه نازل شو،[1] او ارشاد اوشو:

فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖۤ اَحَدًا ۠ (پاره:16، سورۂ کھف:110)

مفهوم ترجمه: نو څوك چې خپل ربّ سره د مُلاقات اُمّید ساتي، هغه له پکار دي چې نیك کار اوکړي او د خپل ربّ په عبادت کښې هیڅ څوك شریك نه کړي.

## په قیامت باندې د اِیمان لرلو دوه تقاضې

د دې آیتِ کریمه نه معلومه شوه چې هر هغه کس کوم چې په قیامت باندې اِیمان لري، د هغه دا یقین وي چې یوه ورځ به د دې دُنیا نه فنا کیږو، د چا چې دا اِیمان وي چې الله پاك به مخلوق بیا را ژوندے کوي، قیامت به قائمیږي، ټول مخلوق به د محشر په میدان کښې جمع کیږي، ټول مخکښې وروسته [مخلوق] به د الله پاك په بارګاه کښې حاضریږي، څوك چې جَنَّت مني، د دوزخ په عذابونو یقین لري، د زړه نه دا اقرار کوي چې په ورځ د قیامت به د اعمالو حِساب اخستے کیږي، نیك خلق به د الله پاك په رحمت جَنَّت ته داخل شي او بدکار او ګنهګار کوم چې د الله پاك په غضب کښې

[1]... تفسیرِ قرطبی، پاره:16، سورۂ کھف، زیرِ آیت:110، جلد:5، صفحه:305۔

ګرفتار شي هغوئي به د جَهَنَّم په دردناك عذابونو کښې اخته وي، کوم کس چې په دې رښتيني عقيده اِيمان لري، د قيامت د ورځې د شرمندګۍ نه ځان بچ ساتل غواړي، خوك چې د جَنَّت اُمِّيدوار او د دوزخ نه د آزادۍ طلبګار وي، د هغه ايمان او د هغه جنت ته د تللو اميد دا تقاضه کوي چې هغه بنده دِ دا دوه کارونه کوي:

نمبر1:

فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا | مفهوم ترجمه: هغه له پکار دي چې نيك کار کوي

په دې کښې هيڅ شك نشته، چې الله پاك رحمٰن دے، رحيم دے، بخښونکے دے، ډير مهربانه دے، خو د الله پاك د رحمت د اُمِّيد ساتلو په بهانه ګناهونه کول، نيکۍ نه کول د الله پاك په رحمت باندې اُمِّيد نه دے بلکه دا د اِيمان د تقاضے خلاف ورزي کول دي .

عمل سے زِندگی بنتی ہے، جنّت بھی جہنّم بھی
یہ خاکی اپنی فطرت میں نہ نُوری ہے نہ ناری ہے

يعني انسان په خپل اصل کښې نه فرښته ده او نه شيطان، دا فيصله د انسان اعمال کوي چې دا د جَنَّت حقدار دے او که د دوزخ.

الله پاك ارشاد فرمائي:

فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِیْنُهٗ ۙ(۶) فَهُوَ فِیْ عِیْشَةٍ رَّاضِیَةٍ ؕ(۷) وَ اَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِیْنُهٗ ۙ(۸) فَاُمُّهٗ هَاوِیَةٌ ؕ(۹) وَ مَاۤ اَدْرٰىكَ مَا هِیَهْ ؕ(۱۰) نَارٌ حَامِیَةٌ ۠(۱۱) (پارہ30،سورۃالقارعۃ:6-11)

مفهوم ترجمه: نو بهرحال د چا به چې تولونه درانه شي نو هغه به د هغه د زړه په خوښ ژوند کښې وي، او بهرحال د چا چې تولونه سپک شي، نو د هغه ځائے هاويه دے، او تا ته څه معلومه ده چې هغه څه دي؟ لـمبې وهونکے اور دے.

نمبر2: دويم کار کوم چې په آخرت باندې د اِيمان ساتلوتقاضه ده ، هغه دا دے چې:

وَّ لَا یُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖۤ اَحَدًا ۠(۱۱۰)

مفهوم ترجمه: او د خپل ربّ په عبادت کښې دِ هيڅ څوك نه شريك کوي.

په تفسيرِ قُرطبي کښې دي چې: د مُفَسِّرينو اِتِّفاق دے چې په دې آيتِ کريمه کښې د شِرك نه مراد رياکاري ده.[1] مطلب دا دے چې کوم بنده په آخرت باندې اِيمان لري، هغه خو به نيکۍ، عبادت، لمُونځ ضرور کوي، روژے به نيسي، تِلاوت به کوي، صدقه و خيرات به کوي، د قرآن و سُنَّت مطابق به د شريعت مطابق ژوند تيروي، د دې سره سره په آخرت باندې د اِيمان ساتلو دا تقاضه ده چې بنده به د رياکارۍ نه هر وخت ځان بچ ساتي، او نيك کار به صرف او صرف د الله پاك د رضا د پاره کوي.

## رياکاري شِركِ اصغر دے

[1]…تفسیرِ قرطبی، پارہ:16، سورۂ کہف، زیرِ آیت:110، جلد:5، صفحہ:305۔

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دې آيت نه يوه خبره دا معلومه شوه چې په آخرت کښې د نجات د پاره څنګه چې نيکئ ضروري دي، دغه شان خپلې نيکئ د رياکارئ د بربادئ نه بچ کول هم ضروري دي. دويمه دا خبره ډيره قابلِ غور ده چې په دې آيت کښې د رياکارئ د پاره لفظِ ”شِرك“ استعمال شوے دے، په دې کښې د رياکارئ د خطرے طرف ته اشاره ده چې رياکاري ګناه ده خو دا ګناه د شِرك سره مشابهَت لري.

حضرت عُبادَه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يوه ورځ زه د صحابئ رسول حضرت شَدَّاد بِن اَوس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په خدمت کښې حاضر شوم، هغوئي په مُصَلّٰــی باندې ناست وو او ژړل ئې، ما عرض اوکړو: جناب...! کوم څيز تاسو اوژړولئ؟ حضرت شَدَّاد بِن اَوس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل: يو حديث کوم چې ما د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلے وو. بيا هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ هغه حديثِ پاك داسې بيان کړو چې: يوه ورځ ما د خپل آخري نبــي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مخ مبارك باندې د پريشانئ آثار اوليدل نو عرض مې اوکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما مور او پلار دِ په تاسو قُربان وي....! دا د پريشانئ آثار د ولے دي؟

(اَللّٰهُ اَكْبَر!) غمژن آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: يوه مُعامَله ده چې د هغې په وجه زه د خپل اُمَّت مُتَعَلِّق ويره لرم. حضرت شَدَّاد بِن اَوس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما ترينه تپوس اوکړو: يَــا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه څه مُعامَله ده؟ اوئې فرمائيل: شِرك او پټ خواهش. ما عرض اوکړو: يَــا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آيا ستاسو اُمَّت به په شِرك کښې اخته کيږي؟ نو خوږ آقا اوفرمائيل: اے شَدَّاده! زما اُمَّت به د لمَر، سپوږمئ او کاڼو عبادت نه کوي خو زما اُمَّت به په خپلو اعمالو کښې رياکاري کول شروع

کړي. ما عرض اوکړو: يَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آيا رياکاري شِرك دے؟ اوئې فرمائيل: آو (رياکاري شِرك دے). ما عرض اوکړو: يَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! پټ خواهش څه شے دے؟ اوئې فرمائيل: هغه دا دے چې زما يو اُمَّتـي روژه اونيسي خو د څه دُنياوي خواهش په وجه روژه ماته کړي.[1]

په يو حديثِ پاك کښې دي: سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ما ته ستاسو په باره کښې د ټولو نه زيات د شِركِ اصغر ويره ده. عرض اوشو: يَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! شِرکِ اَصغر څه شے دے؟ اوئې فرمائيل: رياکاري. بيا ئې اوفرمائيل: په ورځ د قيامت چې کله خلقو ته د هغوئي د اعمالو بدله ورکړے شي نو رياکارو ته به اووئيل شي چې: هغوئي له لاړ شئ چا ته به مو چې خپل اعمال ښودل...![2]

## رياکاري د دَجَّال د فتنےنه زياته خطرناکه ده

حضرت اَبُو سعيد خُدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يوه ورځ مونږه ناست وو د دَجَّال د فتنے مُتَعَلِّق خبرې مو کولې، په دې کښې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ خبرې واوريدلې نو اوئې فرمائيل: آيا زه تاسو ته د هغه څيز مُتَعَلِّق خبر درنه کړم د کوم نه چې ما ته د دَجَّال د فتنے نه هم زياته ويره ده؟ مونږه عرض اوکړو: يَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ولے نه (ضرور ارشاد اوفرمائے!)، نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: شِرکِ خفـي (يعنې رياکاري، د دَجَّال د فتنے نه هم زياته

---

[1]...مستدرک، کتاب:الرقاق، جلد:5، صفحه:470، حديث:8010۔

[2]...مسند احمد، جلد:9، صفحه:591، حديث:24273۔

خطرناکه ده).[1]

## دَجَّال څوك دے؟ د هغه د فتنے وضاحت

اے عاشِقانِ رسول! دَجَّال غټ کافِر دے، قیامت ته نِزدے به را اوځي، اَعوَر (یعني یوے سترګې والا) به وي، د هغه په تَندي به **کافِر** لیکلے شوے وي، د دَجَّال فِتنه به ډیره سخته وي، هغه به د خُدائي دعوٰی کوي، مړی به راژوندي کوي، په زمکه به شنه بوټي را زرغونوي، د هغه سره به یو باغ او یو اور وي، چې د هغې نوم به ئې جَنَّت او دوزخ ایښودے وي، خو کوم چې په نظر کښې باغ معلومیږي، هغه به په حقیقت کښې اور وي او کوم چې اور ښکاري هغه به په حقیقت کښې باغ وي، دا به په 40 ورځو کښې د **حَرَمَین شَرِیفَین** نه سِوا په ټوله دُنیا کښې اوګرځي، چرته چې ځي باغ او اور به ورسره وي، څوك چې هغه خدائے اومني هغه به په باغ کښې داخل کړي او څوك چې د هغه اِنکار اوکړي هغه به په اور کښې واچوي، دا ټول به د جادو نظارے وي، په آخره کښې به حضرت عِیسٰی عَلَیْہِ السَّلَام د آسمان نه راکوز شي او هغه کافِر دَجَّال به قتل کړي.[2]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! لږ غور اوکړئ! د دَجَّال فتنه څومره غټه ده، چې کله دا په جادو باندې مړي ژوندي کوي، شین والے را زرغونوي، هغه وخت به خپل اِیمان بچ کول څومره ګران وي، اوس لږ غور اوکړئ! خوږ آقا مکي مَدَنی مصطفٰی صَلَّی اللہ

---

1...ابن ماجه، کتاب:الزهد، باب:الرياءوالسمعة، صفحه:682، حدیث:4204۔
2...بهارِ شریعت، حصّه:1، جلد:1، صفحه:120 تا 122 خلاصةً۔

عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ما ته ستاسو مُتَعَلِّق د دَجَّال نه زياته د ''رياكارئ''ويره ده؟ رياكاري خومره خطرناك مرض دے.

## رياكاري څه ته وائي...؟

هر هغه كار چې (شرعاً ټيك وي او) د الله پاك د رِضا د پاره اوشي، هغې ته عبادت وائي. كه يو بنده دغه كار د الله پاك د رِضا نه علاوه په بله اراده اوكړي نو دا رياكاري ده.[1] مَثَلاً لمُونځ ادا كول عبادت دے، كه څوك لمُونځ د الله پاك د رِضا د پاره نه ادا كوي، د خلقو ښودلو د پاره لمُونځ ادا كوي، داسې كس ته رياكار وائي.

## نيكۍ ښكاره كول هم په رياكارۍ كښې شامِل دي

د رياكارۍ بُنيادي دوه صُورتونه دي: (1) يو صورت ئې دا دے چې بنده د ښودلو د پاره نيك كار اوكړي مَثَلاً ❁ هغه لمُونځ د دې د پاره كوي چې خلق ورته لمُونځ ګزاره اووائي ❁ روژه د دې د پاره نيسي چې خلق ورته روژه دار اووائي ❁ صدقه و خيرات د دې د پاره كوي چې خلق ورته سخي اووائي، يعنې چې بنده د نيكۍ كولو نه مخكښې يا د نيكۍ كولو په وخت كښې په رياكارۍ كښې اخته شي، دا د رياكارۍ وړومبے صورت دے.

(2) د رياكارۍ دويم صورت دا دے چې بنده د نيكۍ كار د ښودلو د پاره اونكړي بلكه په اِخلاص سره خالص د الله پاك د رِضا د پاره نيكي اوكړي خو د نيكۍ كولو نه

---

1...رياكارى، صفحه:7۔

پس، په ژوند کښې څه وخت د يو دُنياوي مقصد د پاره مَثَلاً خپل صفت اوريدلو د پاره يا د عِزَّت او مرتبے د پاره خپل اِخلاص والا عمل ښکاره کړی نو داسې **خپلې د اِخلاص والا نیکۍ ښکاره کول هم په رياکارۍ کښې شامِل دي.** حُجَّةُ الاسلام اِمام محمد بِن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د رواياتو نه معلوميږي چې دغسې خپل عمل ښکاره کولو سره عمل بربادیږي.[1]

## نیکۍ ښکاره کول عمل بربادوي

د حضرت اَبُو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې سرکارِ مدِينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: بيشکه د نیکۍ حِفاظت کول د نیکۍ کولو نه زيات مُشکل دي، بيشکه انسان نيکي کوي نو د هغه د پاره په يواځې ځائے کښې يوه نيکي او ورسره 70 چنده زياتوالے ليکلے کيږي [يعنې د هغې يوے نيکۍ ثواب ورته 71 چنده ورکولے کيږي]، بيا شيطان په هغه پسې اولګي، تر دې پورې چې بنده د خلقو په مخکښې خپله نيکي ښکاره کړي، هغه 70 چنده زياتوالے (کوم چې د هغه په اعمال نامه کښې ليکلے شوے وو هغه) وران کړے شي، بيا شيطان په هغه پسې لګيدلے اوسي، تر دې پورې چې بنده په دويم ځل خپله نيکي ښکاره کړي، د بنده خواهش وي چې د هغه د نیکۍ تذکره اوکړے شي، په نيک کار باندې ئې تعريف اوکړے شي، پس د هغه عمل ئې [د اعمال نامے] نه وران کړے

1 ...احياءُالعلوم، جلد:3، صفحه:908۔

شي او د هغې په ځائے د رياكارئ ګناه اوليكلے شي، بنده له پكار دي چې د الله پاك نه اُويَريږي، د خپل دِين حفاظت اوكړي. بيشكه رياكاري شِرك دے.[1]

## د نيكو ښكاره كولو 2 جائِز صُورتونه

الله! الله! اے عاشقانِ رسول! بےشكه د نيكۍ ښكاره كولو جائِز صُورتونه هُم شته، مثلاً ❁ تحديثِ نعمت (يعني د نعمت بيانولو په نِيَّت) نيكي ښكاره كولے شي- ❁ هُم دغسې څوک پيشوا دے او هغه خپل عمل په دې نِيَّت ښكاره كوي چې د هغه ماتحته خلقو ته د هغو نيكو رغبت حاصل شي نو د نيكۍ ښكاره كولو دا صورتونه رياكاري نه ده خو په دې كښې هُم ډيره خطره ده، هر يو ته پكار دي چې د خپل عمل ښكاره كولو نه مخكښې 101 ځله د خپل زړه په كيفيت غور اوكړي ځكه چې شيطان ډير مكّار دے هسې نه چې هغه بنده په دې طريقه په رياكارئ كښې اخته كړي مَثَلًا په زړه كښې ورته دا وسوسه واچوي چې خلقو ته اُووايه، چې ”زه خو صرف د تَحدِيثِ نعمت د پاره خپل عمل بيانووم.“ حالانكه كه په زړه كښې خوشحاليږي چې دغسې نيكۍ ښودلو باندې به د خلقو په زړونو كښې زما عِزّت زيات شي. دا يقيناً رياكاري ده او ورسره دې ته تَحدِيثِ نِعمت وئيل د رياكارئ د پاسه رياكاري ده او ورسره د دروغو د ګناه تباه كاري هُم ده.-(2)

عطا كر دے اِخلاص كى مجھ كو نعمت | نه نزديک آئے ريا ياالٰہى!

---

1...شعب الايمان، باب: فى الاخلاص العمل، جلد:5، صفحه:344، حديث:6864۔

2...فيضانِ رمضان، صفحه:403۔

# دوه ډېر خطرناك دُښمنان

الله! الله! اے عاشِقانِ رسول! غور اوکړئ! هسې فضول د خپلو نیکو د ښکاره کولو په وجه په ریاکارۍ کښې د اخته کیدو څومره نُقصان دے...! نیکۍ کول څه آسان کار نه دے؟ د یوے نیکۍ کولو د پاره انسان په یو وخت کښې د دوو دُښمنانو سره جنګ کوي: **یو** نَفسِ اَمَّاره او **دویم** شیطان، دا دواړه خطرناك دُښمنان دي، دا هر وخت د نیکو کولو نه منع کول کوي، انسان د دې دواړو په مخالفت کښې نیکي کوي، بیا د نیکۍ کولو د پاره محنت کوي، وخت ورکوي، روپۍ خرچ کوي، سختي تیروي مَثَلاً تَهَجُّد د پاره د خوږ خوب قرباني ورکوي، په سخته یخنۍ کښې کله په یخو اوبو اودس کول پیښ شي، د لَمانځه د پاره کاروبار پریښودل وي، د روژے نیولو د پاره تږوله ورځ لوږه او تَنده برداشت کوي، د حج او عمرے د پاره لکونو روپۍ خرچ کوي، د سَفَر تکلیفونه برداشت کوي، بیا که دا نیکۍ په اِخلاص سره اوکړے شي نو د دې جزا څه ده؟ جَنَّت، د جَنَّت همیشه نِعمتونه، د الله پاك دیدار، د دې نه اوچت یو نِعمت هم نشته. خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! مونږه واوریدل چې نیکۍ دومره ډېرې قیمتي دي، د دې باوجود که یو بنده صرف د خپل زړه خوشحالولو د پاره د خپل تعریف او صرف واه واه اوریدلو د پاره دومره قیمتي نیکۍ ضائع کړي نو سوچ اوکړئ هغه څومره لوئ تاوان اوکړو؟ خو افسوس! خلق خیال نه کوي، یقین اوکړئ چې حالات ډېر زیات نازك دي، نن صبا د نیکۍ کولو جذبه ورځ په ورځ کمیږي او د نیکو ښکاره کولو جذبه زیاتیږي. نَفسِ اَمَّاره ډېر سرکشه دے، د خپل تعریف ډېر شوقین دے، شیطان

ډير چالاکه دے، اوّل خو ځوک نيکۍ کولو ته نه پريږدي، او که ځوک څه د نيکۍ کار اوکړي نو بيا شيطان داسې ورپسے شي چې ترڅو پورې ئې هغه نيکي ښکاره کړي نه وي او رياکارۍ کښې اخته شوے نه وي، تر هغه وخته پورې ترينه شيطان نه قلاريږي، او افسوس! مونږه داسې نادانه يو چې د نَفس و شيطان په خبرو کښې راشو او په ډيره محنت او خوارو سره کړې خپلې نيکۍ برباد کړو.

## د يوے جُملے سره ئې دوه حجونه ضائع کړل

بعضې وخت خلق په يوه جمله وئيلو خپل د کلونو عبادت ضائع کړي. يو ځل حضرت سُفيان ثوري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د يو کس دعوت ته تشريف يوړلو، کوربه خپل خادم ته اووئيل: په هغه لوښو کښې طعام راوړه کوم چې ما په دويم ځل د حج په سفر کښې راوړي دي. حضرت سُفيان ثوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: اے مسکينه! تا په خپله يوه جمله خپل دوه حجونه ضائع کړل.[1]

## د رياکار يو عبرتناك مِثال

اے عاشِقانِ رسول! غور اوکړئ! خومره د نُقصان خبره ده چې يو کس محنت کړے وي، تکليف ئې برداشت کړے وي، نيك اعمال ئې کړي دي خو افسوس! د شيطان په خبرو کښې راغلے، خپلې نيکۍ ئې ښکاره کړې او نيك اعمال ئې ضائع کړل. آه! که د نيکو ښکاره کولو او په رياکارۍ کښې د اخته کيدلو په وجه صرف عمل بےکاره

1 ...فضائلِ دُعا، صفحه: 281۔

کيدلے نو بيا به هم که صرف دومره حبره وے لکه ده چې هډو نيکي کړي نه وي، خو خبره داسې نه ده بلکه رياکار خو هغه خطاکار دے چې نيکي کوي خو د نيکئ ښکاره کولو په سبب ګنهګار ليکلے کيږي. د ښودلو دپاره نيکي کول يا نيکي ښکاره کول او په رياکارئ کښې اخته کيدل څومره خطرناك دي، په دې خبره باندې پوهه کولو د پاره په قرآنِ کريم کښې يو عبرتناك مِثال بيان شوے دے، په دريمه سيپاره، سُورةُ البَقَرَة، آيت نمبر 266 کښې ارشاد دے:

اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ اَنْ تَكُوْنَ لَهٗ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّ اَعْنَابٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُۙ لَهٗ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِۙ وَ اَصَابَهُ الْكِبَرُ وَ لَهٗ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ ۖۚ فَاَصَابَهَاۤ اِعْصَارٌ فِيْهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ۠﴿۲۶۶﴾

(پاره:3،سورة البقرة:266)

مفهوم ترجمه: آيا په تاسو کښې څوك دا خوښوي چې د هغه د کجورو او انګورو يو باغ وي چې د هغې نه لاندې ولے بهيږي، په هغې کښې د هغه د پاره هر قِسم ميوے وي او هغه ته بوډا والے راشي او حال دا وي چې د هغه کمزورے اولاد وي، بيا په هغې باندې يوه زورروه تاويدُونکې هوا راشي چې په هغې کښې اور وي او ټول باغ اوسوزي. الله تاسو ته هُم دغه شان خپل آيتونه ښکاره ښکاره بيانوي چې تاسو غوروفِکر اوکړئ.

دا يو مثال دے، په مونږ کښې دِ هر يو په دې مثال غور اوکړي، سترګې دِ پټې کړي او د خپل ځان په باره کښې دِ سوچ اوکړي، مَثَلًا چې مونږ دِ دا تصور اوکړو چې زه بوډا شوے يم، اوس مې په لاسو کښې د پښوا په شان طاقت نشته. اوس د ډير محنت کار نه شم کولے، په دې حالت کښې مې واړه واړه بچي هم دي، هغوئي هُم کار نه شي کولے او د دغه بچو د پالنې واحده ذريعه مونږه يُو، زمونږه يو دُکان دے، هُم په هغې

کښې څه نه څه نه ګټو، ټولې خرچے مو د هغې نه چلیږې، د ګټې بله څه ذریعه مو نشته، سیل مین مال راوړی او مونږه ئې په آرام سره خرڅوو، د ژوند نِظام مو روان دے، ناڅاپه یوه شپه په هغه دُکان کښې اور اولګي او ټول سامان اوسوزي، آه! د ژوند صرف یوه اسره مو وه، هغه هم اوسوزیدله.

نو په دغه حالت کښې به زمونږ د خفګان څه حال وي؟ څومره سخت تکلیف کښې به یُو؟ د وړو ماشومانو فکر به اخستي یُو، څومره تکلیف به وي راته، سخت به خفه یُو، اوښکې به مو بهیږي، سوچ اوکړۍ څومره غمژن به یُو؟ اوس دا تَصَوُّر لږ آخرت طرف ته بوځۍ! مونږه په دُنیا کښې ډیر کلونه تیر کړل، ټول ژوند مو لمُونځُونه اوکړل، روژے مو اونیولې، صدقه و خیرات مو اوکړل، د اشراق و څاښت او اَوَّابینو هم پابند وو، تَهَجُّد مو هم پابندۍ سره ادا کولو، نفل حجونه او عمرے مو هم کړی دي، ډیرې نیکۍ مو کړي دي، په خپل ګمان کښې خو مونږه ښه نیك وو، اعمال نامه مو د نیکو نه ډکه ګڼړله، ناڅاپه د مرګ فرښته راشي او روح رانه واخلي او یو شور جوړ شي، بیا خلق وائي چې څومره نیك انسان وو، د دُنیا نه لاړو، د هرې سترګې نه اوښکې روانې دي، ژړاګانې دي، بیا غُسل راکړے شي، کفن راکړے شي، د جنازے لمُونځ مو ادا کړے شي، بیا مو د تیارو نه ډك قبر ته کوز کړي او یواځې مو پریږدي، خلق په غمژنو زړونو زمونږ تعریفونه کوي، زمونږ په نیکو باندې واه واه کوي او بیرته کورونو ته روان شي، نو بیا به مونږه یُو او زمونږ اعمال به وي. او بیا راته په هغه تنهائۍ او تورو تِیارو او د سختۍ ویرې په حالت کښې پته اولګي چې زمونږ هغه ټولې نیکۍ خو د ریاکارۍ په وجه برباد شوي دي...! افسوس! هغه اُوکړده اُوکړده لمُونځُونه، تَهَجُّد،

اوَّابين، اشراق و څاښت، هغه د ګرمۍ روژے، د ټولې ورځې لوږه او تنده، په لکونو روپيو خرچ کولو مو حج ادا کړے وو، عمرے مو کړي وې، د خپل محنت ګټه مو په غريبانو تقسيم کړې وه، د جمات په تعمير کښې مو حِصَّه اچولې وه، په ديني مدرسو مو مال خرچ کړے وو، يوه يوه نيکي مو جمع کړي وه او اُمِّيد مو لرلو، يقين مو لرلو چې دا نيکۍ به مې په قبر کښې په کار راشي، د قبر د عذاب نه به مې بچ کړي، د سختې نورې تِيارے شپه به مې روښانه کړي خو افسوس! افسوس! اوس چې قبر ته را اورسيدم نو خبر شوم چې د نيکو ښکاره کولو، په رياکارۍ کولو مې خپل ټول محنت برباد کړے دے، او اوس مې په اعمال نامه کښې يوه نيکي هُم نشته، ټوله د رياکارۍ نه ډکه ده. آه! افسوس! افسوس! الله پاك دِ مونږ ټول د داسې حال نه په خپل حفاظت کښې اُوساتي. . . . . محترمو اسلامي ورونړو! که چرې واقعي داسې اوشي نو د قبر په تنهائۍ او تورو تِيارو کښې به په مونږه څه تيريږي، څنګه د غمونو باران به وي راباندې، څومره به مايوسه يُو...!!

بيا که خلق په زمکه د پاسه زمونږه تعريفونه کوي نو څه فائده؟ ځکه چې مونږ خو به د قبر په تنهائۍ کښې په غم او شرمندګۍ کښې اخته يُو، ارمانونه به کوو خو افسوس! وخت به تير وي. ځکه چې

اب کیا ہوَت، جب چڑیاں چُگ گئیں کھیت

يعنې چې مرغو فصل تباه کړو نو اوس د افسوس کولو څه فائده.

## د ټولو نه زيات په تاوان کښې څوك دے....؟

اے عاشِقانِ رسول! ښه غور اوکړئ! نیکۍ ښکاره کول او د دې په ذریعه په ریاکارۍ کښې اخته کیدل څومره تاوان دے....! په سیپاره 16، سورۂ کهف، آیت: 103 او 104 کښې ارشاد دے:

قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِیْنَ اَعْمَالًا ﴿۱۰۳﴾ اَلَّذِیْنَ ضَلَّ سَعْیُهُمْ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَهُمْ یَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ یُحْسِنُوْنَ صُنْعًا ﴿۱۰۴﴾

(پارہ:16،سورۂ کہف:104103)

مفہومِ ترجمه: ته اوفرمایه! آیا مونږ تاسو ته اوښایو چې د ټولو نه زیات ناقصه عمل کوونکي څوك دي؟ هغه خلق د کومو ټول کوششونه چې د دُنیا په ژوند کښې برباد شو، حالانکه هغوئي دا ګمان کوي چې هغوئي ښه کار کوي.

په دې آیتونو کښې بیان شو چې هغه کس چې په دُنیا کښې ئې محنت کولو، کوشش ئې کولو، هغه په خپل خیال کښې وخت نه دے ضائع کړے او هغه دا ګڼړله چې زه ښه کار کووم، زه ډیرې نیکۍ کووم خو چې کله به په ورځ د قیامت د الله پاك په بارګاه کښې حاضر شي نو معلومه به شي چې د هغه ټول محنت، ټول کوشش خو ضائع شوے دے، دا هغه کس دے چې د قیامت په ورځ به د ټولو نه زیات په زیان او تاوان کښې وي. عَلَّامه قُرطَبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آیت لاندې فرمائي: د هغه بنده اعمال به ضائع شي یا خو په دې وجه چې بدعقیده وو، کافِر وو، بدمذهبه وو، **یا به ئې په دې وجه اعمال ضائع شي چې هغه به ریاکارۍ او ښودنه کوله.**[1]

## ریاکار د الله پاك سره بد دیانتي کوونکے دے

[1] …تفسیرِ قرطبی، پارہ:16، سورۂ کہف، زیرِ آیت:103، جلد:5، صفحہ:302۔

یو ځل یو کس د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو، عرض ئې اوکړو: يَـا رَسُولَ الله! په ورځ د قیامت به کوم څیز نجات ورکوي؟ خوږ نبـي اوفرمائیل: د الله پاك سره بد دیانتـي نه کول. هغه کس عرض اوکړو: بنده د الله پاك سره بد دیانتـي څنګه کولے شي؟ اوئې فرمائیل: داسې چې ته د الله پاك او د هغه د رَسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبردارۍ والا کار د غیرُ الله راضي کولو د پاره اوکړې. پس د ریاکارۍ نه بچ اوسه ځکه چې ریاکاري شِرکِ (اصغر) دے او په ورځ د قیامت به ریاکار په څلورو نومونو رابللے کیږي: **(1)** اے بدکاره! **(2)** اے دوکه بازه! **(3)** اے کافِره! **(4)** اے نُقصان اوچتوونکیه! ستا عمل خراب شو! ستا اجر برباد شو! نن ستا د پاره څه حِصَّه نشته، اے د دهوکے ورکولو کوشش کوونکیه! خپل ثواب د هغه سره اولټوه د چا د پاره چې دِ عمل کړے وو.[1]

## الله ته معلوم دي چې څوك مُتَّقِـي دے؟

اے عاشِقانِ رسول! اُویریږئ! د نیکو ښکاره کولو نه ځان اوساتئ! صرف د الله پاك د رِضا طلب ګار جوړ شئ! په سیپاره 27، سورۂنجم، آیت: 32 کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| فَلَا تُزَكُّوْۤا اَنْفُسَكُمْؕ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى۠ ﴿۳۲﴾<br>(پ ۲۷۔النجم: ۳۲) | مفهوم ترجمه کنزالایمان: نو پخپله خپلو ځانونو ته پاک مه وائې، هغه ته ښه معلوم دي څوک چې پرهیزګار دي. |

په تفسیر صراطُ الجِنان کښې دي: دا آیت د هغه خلقو په باره کښې نازل شوے دے کومو به چې نیکۍ کولې او د خپلو عملونو تعریف به ئې کولو، او وئیل به ئې:

---

1 ...الزواجر عن اقتراف الکبائر، جلد: 1، صفحه: 75۔

زمونږ لمُونځونه، زمونږ روژے، زمونږ حج. په دې باندې الله پاك اوفرمائیل: اے اِیمان والؤ! تاسو په فخر باندې د خپلو نیکو تعریف مه کوئ، الله پاك هغه بندګان ښه پیژني کوم چې پرهیزګاران دي او د هغه پیژندل پوره دي ځکه چې هغه جزا ورکولو والا دے، لِهٰذا نورو ته د خپلو اعمالو ښکاره کولو او شُهرت حاصلولو څه فائده...؟[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! غور اوکړئ! څومره زبردسته خبره ده، الله پاك ته معلوم دي چې څوك نیك دے، څوك پرهیزګار دے، څوك تَهَجُّد ادا کوي، څوك پینځه وخته لمُونځ د جَمعې سره ادا کوي، څوك د اشراق و څاښت پابند دے، څوك ډیر تلاوت کوي، څوك ډیره صدقه و خیرات ورکوي، الله پاك ته معلوم دي چې څوك په مدني قافله کښې سَفَر کوي، څوك په هفته واره اجتماع کښې شریك کیږي، څوك د 72 نیك اعمالو پابند دے، الله پاك ته معلوم دي، الله پاك د ټول جهانونو ربَّ دے، د ټولو خالِق دے، الله پاك به ټولو له د نیکو جزا ورکوي، الله پاك زمونږه هُم مالك دے او د جَنَّت هُم مالك هم دے، نو الله پاك ته چې معلوم دي چې مونږه نیکي کړي ده نو بیا نورو خلقو ته د ښودلو، د هغوئي په مخکښې د اِظهار کولو څه حاجت دے...؟ مشهور مُفسّرِ قرآن، حضرت مفتی احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ډیره ښکلي خبره لیکلي ده، فرمائي:خوند خو دا کوي چې بنده اووائي: زه ګنهګار یم، او ربّ اوفرمائي: دا پرهیزګاره دے څنګه چې حضرت ابوبکر صِدِّیق رَضِیَاللهُعَنۡهُ وو.[2]

---

1 ...تفسیر صراط الجنان، پاره:27، سورۂ نجم، زیرِ آیت:32، جلد:9، صفحه:569۔
2 ...تفسیر نورالعرفان، پاره:27، زیرِ آیت:32، صفحه:634۔

حضرت ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عاجزي کوونکے وو، هغوئي به خپل ځان ګنهګار ګڼړلو، د الله د ويرې نه به ئې ژړل خو الله پاك د هغوئي په شان کښې فرمائي:

وَ سَيُجَنَّبُهَا الْاَتْقَى ﴿۱۷﴾ الَّذِیْ يُؤْتِیْ مَالَهٗ يَتَزَكّٰى ﴿۱۸﴾ (پاره:30،سورة الليل:18.17)

مفهوم ترجمه: او نِزدې به د ټولو نه لوئ پرهيز ګار د هغه اور نه لرې ساتلے کيږي، کوم چې خپل مال ورکوي د پاره د دې چې هغه ته پرهيزګاري نصيب شي.

دا ده اصل خوندوره خبره، چې بنده وائي: زه ګنهګار يم او الله پاك فرمائي: دا د نيکانو سردار دے. بهرحال نيکۍ ښکاره کول او په خپله خُله خپل صفت کولو باندې نيکۍ بربادول او د خپل محنت ضائع کولو اسباب جوړول سخته د تاوان خبره ده، د يو عقلمند نه تپوس اوکړے شو: بد رښتيا څه دي؟ اوئې فرمائيل: په خپله ژبه خپل تعريف کول، او خپلې نيکۍ ښکاره کول.

## د نيکو ښکاره کيدو نه د بچ کيدلو دوه طريقے

زمونږه بُزُرګانِ دين کوم چې نن په دُنيا کښې مشهور دي او د هغوئي د نوم محافل منعقد کيږي، په مزارونو ئې ګڼړه وي، د الله پاك د هغه نيکو بندګانو دوه اعلٰی صفتونه دي، که مونږه دغه اوصاف اختيار کړو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د نيکو ښکاره کولو د آفت نه به بچ شو.

## (1) خپل ځان ګنهګار ګڼړل

**وړومبے وصف** دا دے چې زمونږ د بُزُرګانِ دينو يو يو ساعت به په نيکو کښې تيريدلو، ټوله شپه به ئې عبادت کولو، هره ورځ به ئې ډير ډير نوافِل ادا کول خو د دې

باوُجود به ئې ځان ګنهګار ګڼړلو، د حضرت بَکـر بِن عبدُ الله رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه عام عادت مبارك وو چې کله به ئې يو بوډا کس اوليدلو نو فرمائيل به ئې: دا زما نه بهتر دے چې زما نه مخکښې ورته د الله پاك د عبادت سعادت حاصل شوے دے او چې کله به ئې يو ځوان اوليدلو نو فرمائيل به ئې: دا زما نه بهتر دے چې زما ګناهونه د ده نه ډير زيات دي.[1] حضرت محمد واسِع رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: که د ګناهونو نه بدبوئي راتلے نو څوك به زما خوا ته نه شوے کښيناستلے.[2] حضرت سِرّي سَقطِـي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به هره ورځ په دې نِيَّت په آئينه کښې کتل چې چرته د ګناهونو په وجه زما مخ نه وي تور شوے.[3]

دا د الله والؤ مبارك انداز دے....! دا د هغه بُزُرګانو عاجزي ده، هغوئي نيك وو، شپې ورځې به ئې په عبادت کښې تيريدلې خو د دې باوُجود به ئې خپل ځان ګنهګار ګڼړلو، که مونږه هم د زړه نه خپل ځان ګنهګار اوګڼړو نو اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيۡم! د نيکو ښکاره کولو د آفت نه به بچ شو، ظاهره خبره ده کوم کس چې خپل ځان هډو نيك نه ګڼړي نو بيا د نيکۍ ښکاره کولو هډو سوال نه پيدا کيږي. حضرت اسماعيل بِن نُجيد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: بنده تر هغه وخته پورې په بندګۍ کښې کامِل نه شي کيدے تر څو پورې چې خپلې ټولې نيکۍ رياکاري اُونه ګڼړي.[4]

يعنې بنده نيکۍ اوکړي خو هغه په نيکو کښې نه شميري بلکه په نيکو کښې چې د

---

1 ...حلية الاولياء، جلد:2، صفحه:257، حديث:2143۔

2 ...سُرُور القلوب، صفحه:213۔

3 ...سرور القلوب، صفحه:214۔

4 ...تاريخ الاسلام، جلد:8، صفحه:525۔

اِخلاص کوم کمے پاتې شوے وي، د هغه کمی سوچ دِ کوي او د اللہ پاك نه دِ د مُعافـئ طلب ګار اوسي.

## (2) بس د اللہ پاك د رِضا طلبګار اوسه

د اللہ پاك د نیکو بندګانو دویم وصف دا دے چې بُزُرګانِ دین به هر وخت د اللہ پاك د رِضا طلبګار به اوسیدل، د هغوئي د ژوند صرف دا یو مقصد وو چې په څه طریقه اللہ پاك زمونږ نه راضي شي.

وَ یُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِیْنًا وَّ یَتِیْمًا وَّ اَسِیْرًا۸ اِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللّٰهِ لَا نُرِیْدُ مِنْكُمْ جَزَآءً وَّ لَا شُكُوْرًا۹
(پارہ29،سورۂ دَہْر:9،8)

**مفهوم ترجمه:** او هغوئي د اللہ په محبت کښې په مسکین او یتیم او قیدي باندې طعام خوري، **هغوئي ته وائي مونږه تاسو ته خاص د اللہ د پاره طعام درکوو،** تاسو نه څه بدله یا شُکر ګُزاري نه غواړو.

اوګورئ! دا د اللہ پاك د نیکو بندګانو وَصف دے چې هغوئي یتیمانو، مسکینانو ته طعام ورکوي، صرف او صرف د اللہ پاك د رِضا د پاره او دا خواهش هم نه ساتي چې خوك د دوئي شُکریه ادا کړي.

اللہ پاك دِ مونږه هم د رِضائے اِلٰهي طلبګار جوړ کړي. زمونږ د ژوند اصل مقصد اللہ پاك راضي کول دي، که اللہ پاك راضي شي نو ډیر خوش قسمته به یُو او که اللہ پاك راضي نه وي نو یقین اوکړئ! که ټوله دُنیا زمونږه تعریف اوکړي نو څه نه حاصلیږي.

## دګناهونو ښکاره کولو نه هُم ځان ساتئ..!

اے عاشِقانِ رسول! څنګه چې نیکۍ ښکاره کول ټيك نه دي، دغه شان ګناهونه ښکاره کول هم غلط دي. یو خو داسې چې بنده وائي: زه ډېر ګنهګار يم. داسې خبره په عاجزۍ کښې شمیرلے کیږي، داسې عاجزۍ والا الفاظو وئیلو په وخت ښه غور کول پکار دي، که بنده په زړه کښې خپل ځان نیك ګڼړي خو په ژبه وائي: زه ګنهګار يم نو یقیناً دا عاجزي نه ده بلکه دروغ دي. دغه شان عاجزۍ والا الفاظ وئیلو په وخت کښې احتیاط کول پکار دي. د بعضې خلقو عادت وي چې هغه د مُعَیَّن ګناه اِظهار کوي، مثلاً نن رانه د سحر لمُونځ قضا شوے وو، بعضې خلق د مسئلے تپوس کوي: مولانا صاحب! زما نه د ماسپخین لمُونځ قضا شوے وو، آیا د مازدیګر لمَانځه سره ئې ادا کولے شم. بعضې نادان په فخر سره وائي: ما فلاني ته د دومره زرو روپو دوکه ورکړې وه. غرض: په مختلف انداز خلق خپل ګناهونه ښکاره کوي. دا هم ناجائز دي. په فتاوٰی شامي کښې دي:**اِظْهَارُ الْمَعْصِیَّةِ مَعْصِیَّةٌ** د ګناه اِظهار هم ګناه ده. [1]

## په دولسو دیني کارونو کښې یو دِیني کار مَدَني مُذاکَره

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د **عاشِقانِ رَسُول** په صُحبت کښې کښیناستل هُم د ریاکارۍ نه د بچ کیدلو یوه طریقه ده، لِـهذا د **عاشِقانِ رَسُول** دیني تحریک دعوتِ اسلامي سره تړون اوکړئ، په دولسو دیني کارونو کښې ډېره ډېره حِصّه واخلئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ زړه به مو روښانه شي، مَحبَّتِ اِلٰهی او عِشقِ رَسُول به مو نصیب شي، او د دین او دُنیا بیشمیره خیرونه به په لاس درشي. د دعوتِ اسلامي دولسو دیني کارونو کښې یو دیني کار دے

---

[1] …فتاوی شامی، کتاب:الصلاۃ، جلد:2، صفحه:650۔

مَدَني مُذاکره-

شيخِ طريقت، امِيرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا **محمد اِلياس عطّار قادِري رَضَوِي** دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د هر اتوار په شپه [يعني د خيالي او اتور مينځنۍ شپه] باندې په مَدَني چينل باندې براه راست د سوالونو جوابونه ورکوي، تاسو هُم په مَدَني چينل باندې پابندۍ سره د مَدَني مُذاکرے کتلو او اوريدلو کوشش کوئ. راځئ چې يو مَدَني سپرلے واورو:

## د ماډرن ځلمي توبه

د منډي بهاؤ الدين (صوبه پنجاب، پاکستان) د اوسيدونکي يو اسلامي ورور د لِيک خلاصه ده چې زه د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته راتلو نه مخکښې د فيشن په آفت کښې ګرفتار ووم. او د نيکو نه لرې د دُنيا په رنګينو کښې ورک اوسيدلم او دغسې مې خپل وخت بربادولو. يوه ورځ راله يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د رمضان د آخري عشرے د اِجتِماعي اعتکاف ترغيب راکړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰہ د **الله** په فضل ما ته د اِجتِماعي اِعتِکاف سعادت نصيب شو، د اِجتِماعي اِعتِکاف روحاني ماحول، د آخرت فکر ورکوونکي ښکلي بيانونه او د پيشمني او روژه ماتي مناظرو ډير خوند راکړو، او د کرم د پاسه کرم دا چې د اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ علمي او روحاني "مَدَني مُذاکرو" مې د زړه زَنګ لرې کړو او زما د زړه توره شپه ئې د عِشقِ مُصطَفیٰ په رنړا باندې روښانه کړه- ما د خپلو ګناهونو نه رښتيني توبه اوکړه او ميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ نه مې د بيعت شرف حاصل کړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰہ ګِيره مې پريښودله، عمامه مې په سر کړه او د سُنَّتو ډک ژوند تيرولو د پاره مې د دعوتِ اسلامي ديني ماحول اختيار کړو.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دري ځله اِرشاد اوفرمائيلو: "زما په نائب دِ د **الله** پاك رحمت وي، عرض

اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب خوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي.(1)

سُنّت کے مطابق میں ہر اِک کام کروں کاش! | تو پیکرِ سُنَّت مجھے اللہ بنا دے(2)

اے کاش! زما هر کار شي د سُنَّتو مطابق | پيکر کړې د سُنَّتو ما، زما خوږه مَولٰی

## وليمه کول سُنَّتِ مصطفٰی دي

**دوه فرامينِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: 1 وليمه کوئ اګرچه د يوے چيلۍ په ذريعه وي.[3] 2 بد طعام د هغه وليمے دے په کوم کښې چې مالداران را اوبللے شي او غريبانان پريښودلے شي.[4]

**اے عاشِقانِ رسول!** وليمه کول د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ❁ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به وليمه کوله ❁ **اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن،** حضرت صَفِيه رَضِىَ اللهُ عَنها سره د نکاح په وخت خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وليمه کښې په خلقو **حَرِيسه** خوړلې وه.

**د حريسه وضاحت:** کجورې، کوَچ، چوهارے او غوړو نه ګډ وډ جوړ کړے شوي خوراك ته حريسه وائي، د دې ډير قسمونه دي او په مختلفو طريقو سره جوړيږي. ❁ هُم دغسې **اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن،** حضرت زينب رَضِىَ اللهُ عَنها سره د نکاح په وخت خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وليمه کښې پوره يوه چيلۍ ذبح کړې وه، دا د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له طرفه

---

1...جامع بيانِ عِلم، بَابُ: عِلْم کے فضائل، جلد: 1صفحه: 201، حديث: 220۔
2...وسائلِ بخشش، صفحه: 118۔
3...بخاري، کتاب: النکاح، باب: الوليمة ولو بشاة، صفحه: 1329، حديث: 5167۔
4...بخاري، کتاب: النکاح، باب: من ترک الدعوة، صفحه: 1331، حديث: 5177۔

شوو وليمو كښې د ټولو نه لويه وليمه وه.[1]

**د دعوتِ وليمه مُتَعَلِّق مدني ګلونه:** ❁ وليمه د سړي د طاقت مطابق وي، مَثلاً كه غريب وي نو د خپل طاقت مطابق دِ د دعوت اِهتمام اوكړي، مالدار دِ د خپل حيثيت مطابق وليمه اوكړي.[2] ❁ وليمه د واده شپه تيرولو نه پس وركول سُنَّت دي، بعضې خلق د نكاح نه مخكښې وليمه كوي داسې كولو باندې سُنَّت نه ادا كيږي. ❁ د وليمے دعوت قبلول سُنَّت دي، البته د كومې وليمے يا دعوت په باره كښې چې معلوم وي چې هلته خُرافات دي (يعني سندرې، باجے، او يا به نارينه او زنانه ګډ وَډ يو ځائے راجمع شوي وي نو) هلته مه ځئ.[3]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې)

---

[1] …بخاري، كتاب:النكاح، باب:الوليمة ولو بشاة، صفحه:1330، حديث:5168۔
[2] …فتح الباري، كتاب:النكاح، باب:الوليمة ولو بشاة، جلد:9، صفحه:293، تحت الحديث:5167۔
[3] …بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:392، حصه:16خلاصةً۔

دا دُرُود شریف پابندئ سره ګم ازکم یو ځل لوَلې [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوې او قَبُر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبُر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴾5﴿ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: خوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾1﴿ د يو زر ورځو نيکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

2... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

3... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵